مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۱۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (دری پنځوسمه برخه)

## عبدالرحمن لودين

د کاکا سید احمد زوی. نظام نامهٔ ئي له تورکي ژبې څخه دري ته وژباړله. د سراج الاخبار د کتونکي بورډ[1]غړی. یو مشروطه غوښتونکی/ مشروطه خواه. ویل کېږي چې په ۱۹۱۸ز کال کي ئي د کابل په شوربازار کي په امیر حبیب الله خان ډز کړی وو چي له دې کبله د ژوند ډېره موده ئي په زندان کي تېره کړله. د ځوانو افغانانو / جوانان افغان غړی. د امیر امان الله خان او نادر خان پر مهالونو د کابل ښاروال. په ۱۹۳۰ز کال کي اعدام سو.

## احمد علي لودين

د عبدالواحد خان زوی په ۱۸۸۶ز کال کي زېږېدلی دئ. د ۱۹۱۷ز کال په جنوری کي په بمبئي کي افغان استازی. د ۱۹۱۹ز کال په مارچ کي په کابل کي وو. د ۱۹۱۹ز کال د نوامبر په میاشت کي په پېښور کي افغان قنسل خو اجازه ورنهٔ کړل سوه چي برتانوي قلمرو ته ننوځي. د ۱۹۲۰ز کال په سپتمبر کي په ډکه کي د سرحد دار په توګه وګومارل سو. په ۱۹۲۱ز کال کي پولیټیکل آفیسر؛ د ۱۹۲۱ز کال د نوامبر په میاشت کي له دې کاره رخصت او کابل ته راستون سو. د ۱۹۲۱ز کال د دسمبر په میاشت کي د کوهستان مشر حاکم ؍حاکمِ کلان؎. د ۱۹۲۵ز کال په سپتمبر کي په برلین کي مختار وزیر. په ۱۹۲۸ز کال کي بېرته کابل ته راستون سو. د ۱۹۲۸ز کال د نوامبر په میاشت کي کابل ښاروال. د ۱۹۲۹ز کال د مې په میاشت کي له امیر امان الله خان سره هندوستان ته ووت او وروسته له سردار عنایت الله خان سره فارس ته لاړ. د ۱۹۲۹ز کال د دسمبر په میاشت کي کابل ته راستون سو. د ۱۹۳۰ز کال د جنوری په میاشت کي د دربار د وزیر په توګه ئي دنده پیل کړه. د ۱۹۳۰ز کال د اپریل په میاشت کي د جنګ د وزارت مرستیال وزیر. د ۱۹۳۰ز د جولای په میاشت کي د قطغن او بدخشان د ملکي او پوځي چارو لوی اداري مشر یا تنظیمیه رئیس. وروسته دهٔ ځای ناستی جنرال غلام غوث خان سو او دی مزار شریف ته د مزار د مرستیال والي په توګه واستول سو. په ۱۹۳۱ز کال کي د شمال د ولایتونو تنظیمیه رئیس. د ۱۹۳۲ز کال په جنوری کي کابل ته راستون سو او د ,,رئیسِ اردو,, او د ملي دفاع د وزیر په توګه وګومارل سو ؍له محمد داؤود سره په اداري موضوعاتو کي موافق نهٔ وو؎. د شاه جان غني احمدزي خسر. په ۱۹۳۸ز کال کي وفات سو.

[1] -Editorial Board


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## ډاکټر عزيز لودين

د جګړن امين الله لودين زوی په ۱۹۳۹ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ؛ ‎(جګړن امين الله لودين د لوګر له لوديانو څخه وو چې هرات ته ئې کډه کړې وه‎) لومړنی او ثانوی زده کړې ئې له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۶ز کال پورې په هرات کې کړې دي او له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د غازي ښوونځي ته تللی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ سو. په ۱۹۶۵ز کال کې جرمني د تحصيلاتو لپاره ته لاړ او په ۱۹۷۵ز کال کې ئې خپله دکتورا د ‎(کولون[2]‎) له پوهنتون څخه ترلاسه کړه. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د ملي بانک د څېړنو مدير. د کابل پوهنتون پوهندوی. د ‎(وحدت ملي‎) يو له بنسټ ايښودونکو څخه دئ. د ۱۹۷۸ز کال د جولای له مياشتي د ۱۹۸۰ز کال د جنوری تر مياشتي پورې د کابل په پلچرخي کې زنداني. په پېښور کې د محمدي د ډلي/ تنظيم- ژ د سياسي چارو مشر.

## محمد افضل لودين

د مرکزي کمېټې علی البدل غړی. د پکتيا د دريم قول اردو بولندوی. ‎(د غوايي له پاڅون وروسته‎) د لومړي قول اردو بولندوی.

## محمد بشير لودين

د کبير لودين ورور. ساختماني انجنيري ئې د امريکا په متحده اياالاتو کې لوستي ده. په ۱۹۶۵ز کال کې د فراه والي. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د کورنيو چارو وزير. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د سرې مياشتي رئيس. په ۱۹۷۷ز کال کې د بُن سفير. د محمد ابراهيم عباسي له خور شميم عباسي سره ئې وادهٔ کړی دئ. د ۱۹۷۰ز لسيزې په اوږدو کې وفات سوی دئ.

## محمد کبير لودين

د کوهدامن له لودينانو څخه دئ او په ۱۹۱۰ز کال کې زېږېدلی دئ. د حبيبيې له ليسې او د امريکا په متحده اياالاتو کې له ساختماني انجنيری څخه فارغ سوی دئ. د ۱۹۴۰ز لسيزې په اوږدو کې ئې خپل کاري ژوند د ټولګټو / فوايد عامې په وزارت کې پيل کړی دئ او په ۱۹۴۶ز کال کې د ټولګټو د وزارت وزير سو. په ۱۹۵۳ز کال کې ملګرو ملتونو ته د افغان په دائمي استازيتوب کې. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د امريکا متحده اياالاتو ته د افغانستان سفير. په ۱۹۵۶ز کال کې د ټولګټو وزير. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۹ز کال پورې ئې له ايران سره د هلمند د اوبو د موضوع په خبرو اترو کې مهمه ونډه ولوبوله. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۴ز کال پورې برتانيې ته د افغانستان سفير. د ۱۹۶۴ز کال د جولای د مياشتي له ۲۶ نېټې تر ۱۹۶۶ز کال پورې چې ددهٔ د وفات کال دئ په هندوستان کې د افغانستان سفير.

## دُرَی لوګری

نامتو افغان سندرغاړی، کمپوزر او موسيقي غږوونکی چې موسقي ئې په ځانګړې توګه د لوګري نڅا لپاره ددهٔ لوګري موسيقي زښت ډېر مينه وال لري. ګڼ شمېر ملي او نړی وال جوايز او تصديق ليکونه ئې تر لاسه کړي دي.

[2] - Cologne University


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## علي احمد لويناب

باركزی دئ؛ د امير دوست محمد خان د لور له لوري د لويناب [3] خوشدل خان زوی او د عليا حضرتې ورارۀ او د اعليحضرت امان الله خان اوښی دئ. په ۱۸۸۳ز كال كې زېږېدلی دئ او د هندوستان په ,مري, [4] كې ئې تحصيلات کړي دي. په انګليسي، اردو او پښتو په فصاحت پوهېږي. له سردار عنايت الله خان سره د هند د سفر ملګری وو. د ۱۹۰۵ز كال د جنورۍ په مياشت كې د مُلكي شاغاسي [5] په توګه مقرر سو. په ۱۹۰۷ز كال كې له امير حبيب الله سره د هند په سفر كې مل وو او په همدغۀ كال د هرات په سفر كې هم ورسره مل وو او ويل سوي چې پر امير باندې ئې ډېر اغېز درلود. ويل سوي چې د ۱۹۱۹ز كال د فبرورۍ په مياشت كې د سړک د ترميم په چارو كې چې مسؤوليت ئې د شاغاسي ملكي پر غاړه وو د امير حبيب الله خان تر مغضوبيت او قهر لاندې راغی. دا هم ويل سوي چې امير حبيب الله ورباندې ځكه سخت په قهر دئ چې د عليا حضرتې له نفوذ څخه په ګټې اخيستنې ئې هڅه کړې چې د امير له يوې لور سره د وادۀ كولو چانس لاس ته راوړي. شاغاسي ملكي ۲۰۰۰ روپۍ جريمه سو او تنخواه ئې تعليق سوه. كله چې امير امان الله خان د سلطنت پر تخت جلوس وكړ شاغاسي ملكي هم د هغو كسانو په محاكمه كې وو چې په جلال آباد كې ول او پر تخت باندې د سردار نصرالله د كښېناستلو د طرحو ملاتړ ئې کړی وو. سرتيرو، شاغاسي په جلال كې ونيوۀ او ويل سوي چې امير امان الله خان د شاغاسي هغو خبرو ډېر خوابدی کړی وو چې شاغاسي په ولولو او جديت په جلال آباد كې په هغۀ دربار كې کړې وې چې نصرالله خان د خپل امارت اعلان کړی وو. شاغاسي بېرته خوشې سو او ويل سوي چې د اپريل په لومړيو كې ئې د امان الله خان د كارمندانو سرپرستي كوله. د ۱۹۱۹ز كال د جون په مياشت كې د افغان سولې د پلاوي رئيس وټاكل سو. د ۱۹۱۹ز كال د آګست په مياشت كې د كورنيو چارو وزير يا ,ناظرِ ملكي, [6] مقرر سو. د ۱۹۱۹ز كال د آګست په مياشت كې ئې د امان الله خان له يوې خور سره وادۀ وكړ. ويل سوي چې د ۱۹۲۰ز كال د جون په مياشت كې امير امان الله خان ورباندې اعتماد له لاسه وركړ او ورڅخه خوښ نۀ وو. د كورنيو چارو د وزارت له دندې لېرې سو. د ۱۹۲۳ز كال په پای كې بېرته تر التفات لاندې راغی. د ۱۹۲۴ز كال په لړ كې د منګلو د بلوا پر مهال د جلال آباد د ولايت د اداري ريفورم مشر يا ,رئيس تنظيم, [7] مقرر سو. دی د مهمندو، افريديو او نورو قومي جنګياليو د لوی شمېر په راټولولو كې بريالی سو او د هغو ياغيانو ملا ئې ورماته کړله چې د بلوا د ملا ستن بلل كېدل. نوموړي ته د ,تاجِ افغان, [8] اعزازي لقب وركړل سو او د ۱۹۲۵ز كال د جون په مياشت كې د كابل د والي په توګه وګومارل سو. په قومي وګړو په ځانګړې توګه په مهمندو كې ئې د پام وړ نفوذ درلود او ويل سوي چې دا خيال ئې په سركې ګرځېد چې كه د سلطنت واګې په لاس كې اخيستې وای. دري زامن لري : غلام محمد، نور احمد او سلطان احمد؛ اخير الذكره زوی ئې له دوهمې ښځې څخه دئ. ,د دۀ لور چې له

---

[3] - ناب : پښتو لغت دئ چې د والي، حاكم په معنی دئ. ناب په دري – پاړسي كې د خالص، پاک او منزه په معنی دئ او په پښتو كې خالص او پاک ته متره وايي. – له دې كبله لوی ناب د لوی والي يا مشر والي په معنی كېږي. - ژ

[4] -Muree

[5] - chamberlain : يا ملكي شاغاسي : د پادشاه د كور د چارو مدير، د سلطنتي كورنۍ خانه سامان، په ځينو اروپايي هېوادونو كې خزانه دار، په دري پاړسي كې معنی ګانې: فراش اتاق خواب، پرده دار، حاجب، پيشكار، سرپيشخدمت، رئيس خلوت، كارمند ارشد دربار، خزانه دار، ګنجور.

[6] - Nazar-i-Mulki

[7] - Rais Tanzim

[8] - Taj-i Afghan



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رالېږلو مخكې په ځير و لولئ

دوهمي ښځې ښخه ئـې ده او مهريه نومـېږي له عبدالحی عزيز سره وادهٔ کړی دئ. د ۱۹۲۶ز کال د مي او اپريل په مياشتو کې ئـې د کوهستاني تاراک ګړو او بريدګرو پر وړاندې بريالی لښکري يون درلود. ددهٔ په شرحه کې ويل سوي دي : .يو محبوب سړی  چې د شخصيت قدرت لري؛ بې رحمه او زړور دئ.. نور ئـې په هکله وايي : . د لوړو خيالاتو خاوند دئ.. په ۱۹۲۸ز کال کې له اعليحضرت امان الله سره د اروپا په سفر کې وو. وروسته له دې چې د ۱۹۲۹ز کال د جنوری په مياشت کې حبـيـب الله کلکاني کابل ونيوهٔ علي احمد په جلال آباد کې د خوګيانيو له پلوه او د يو شمـېـر غلزيو له پلوه د امير په توګه اعلان سو او د کابل پر لور ئـې مارش پيل کړ. د حبيب الله کلکاني ځواکونو نوموړي ته په جګدلک کې ماتې ورکړه او دی هندوستان ته وتـښـتـېـد. بـېـرته افغانستان ته راغی او په کندهار کې له اعليحضرت امان الله خان سره يو ځای سو. وروسته له دې چې امان الله خان له سلطنت ښخه لاس په سر سو، دی يو ځل بيا د امير په توګه اعلان سو او د حبيب الله کلکاني د ځواکونو پر ضد ئـې مارش وکړ چې په پای کې ئـې ماتې وخوړه او ونيول سو. د ۱۹۲۹ز کال د جولای په مياشت کې ئـې په لوړه غاړه او نافرمانی هغه توپ مچ کړ چې دی په کې والوزول سو.

**نور بيا**

## غلام احمد لويناب

د ولي احمد خان زوی او د لويناب خوشدلخان...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ